# امیرعلي شېر

## فکري بنسټ او سیاسي شخصیت

امیر علي شېر نوايي (فاني) د منځنۍ آسیا د اسلامي دورې یو لوړ علمي، سیاسي، ادبي، هنري او حربي شخصیت دئ چې د خپل عصر په ټولو اجتماعي او فکري غورځنګونو کښې ئې درنه برخه درلوده. ددې شخصیت پنځه لوړ یاد سوي، ابعاد لري، چې هر یو ئې د بیلي پلټني وړ دئ، زه اوس تش د ده د شخصیت څېړنه د یوه جهاندار او سیاسي سړي په توګه دلته وړاندې کوم او د ده د جهاندارۍ نظریات، د سوابق او لواحقو سره لنډ څرګندوم.

پخوانۍ آریانا ، یا د اسلامي دورې زوړ خراسان هغه سیمه ده، چې له خورا لرغونو زمانو څخه دلته د انساني ټولنو د مدنیت او تهذیب هر ډول میراثونه میندل کیږي دلته لوی او غښتلي دولتونه جوړ سوي اوپه تمدن او فرهنګ کښي ئې داسي حرکتونه او سره ګډېدني ښکاره سویدي چې ددنیا د فرهنګ په تاریخ کښي خپل ټاکلی ځای لري.

د دې سیمي خلکو ډېر دمخه د انساني تمدن په ګڼو څانګو کښې غوره برخه درلوده، او خپل ژوند ئې د آزادۍ په سیوري کښې په ښه توګه تېراوه، پخپله د اداري او حکومت کولو په چم پوهېدل، او د جهاندارۍ لپاره ئې ځیني اصول اوخاص عنعنات لرل، چي کله کله د مؤرخانو په نوشتو کښې ساتل سویدي.

مثلاً : هیون تسنګ چیني زایر چي په نهم هجري کال دلته راغلی او تر ۲۴هـ ق پوري ئې ددې سیمي ښارونه، حکمرانان او اداري طرزونه ولیدل، دی وایي چي دلته مالي او لښکري دفترونه ، حاکمان، قاضیان او دولتي کار دانان وو او خلکو د ژوندانه ځیني اصول او قواعد لرل.

د عربو د اسلامي لومړیو پېړیو مؤرخان هم د خراسان د خلکو ځیني اوضاع او عنعنات او د جهاندارۍ اصول ښیي، چي ددوي فرهنګي، مدني او سیاسي جوړښت ښه ځني څرګندیږي.

لکه چي وویل سول د خراسان خلکو لا دمخه دغسي خپل ځیني پخواني عنعنات د جهاندارۍ لپاره درلودل. خو کله چي دوي اسلام ومانه او د اسلامي تمدن په تشکیل کښې ئې لویه برخه واخیسته نو د یونان او نورو ملتونو علوم ئې هم عربي او خپلو ژبو ته رانقل کړل. دلته نو د یوناني، رومي او مصري افکارو او مدني روایات یوه غټه برخه له آریایي فکري پانګو سره ګډه سوه، د سیاست او جهاندارۍ د لارو چارو په څرګندونو کښې روزبه د دادویه زوی چي په ابن مقفي مشهور وُ، د پهلوي ژبي خدای نامه ئې عربي ته راواړول اوخپل کتابونه ئې ادب الکبیر او ادب الصغیر ئې وکښل او د بغداد د خلیفه منصور لپاره ئې په رساله الصحابه کښې د مملکت د نظام، عدالت، قضاء، لښکري او ملکي چارو د سمښت قوانین ولیکل او دا د هجري کلونو د دوهمي سدۍ د منځ یوه پېښه ده. په ادب الدنیا والدین، نصیحه الملوک، قانون

الوزراء او نورو كتابوكښې د مملكت د چارو د سمبښت او د جهانـدارۍ لاري چاري څرگندي سويدي، خو تحليل ئـې دينـي رنـگ لـري. پـه خراسان كښي خو تـر ۲۰۰ ق وروسـته د پوشـنگ د طاهريـانو، د بلـخ د سامانيانو، د سيستان د صـفاريانو او بيـا د غزنـي آل ناصـر آزاد سـلطنتي سازمانونه جوړسول، او پوهانو ئې د جهاندارۍ لپاره د خپـل خراسـاني ثقافت پر بناء داسي لاري چاري وسنجولي چي هـم د اسـلامي فكـر او اخلاقو پانگه لري، او هم د يونـان د فلسـفي ا لهامـاتو او د افلاطـون او ارسطو له اخلاقي او سياسي مفكورو سره لږ وډېـر څـنگ لگـوي. ددې خراساني پوهانو د سر سړی ابو نصر فـارابي (۲۴۰ – ۳۳۹ ق) د السياسـه المدينه او آراء اهل المدينه الفاضله او الآدات الملوكيه خاوند دئ، چي د مدنيه فاضله د مشرتابه لپاره ئـې دوولـس شـرطه ټـاكلي دي. او بيـا د هرات يوبل پوهاند محمد بن يوسف هروي چي په ابـن ابـي ذرعـامری مشهور او په ۳۸۱ ق مړ دئ، د خپل عصر د سياسي افكارو يـو كـوچنی دائرة المعارف " السعاده الاسعاد" كتاب وكښن، دی وايي چـي د انسـان نيكبختي په سياست كښي لاسته راځي او د هر ښه سياست نتيجه اسـعاد يعني د نورو سعادت ته رسول دي.

د فـارابي او عـا مـري د فكـر پـه سياسـي مكتـب كـي وروسـته، د عنصرالمعالي كيكا وس قابو سنامه او د امام غزالي ځيني ميتوديک آثـار راووتل ،چي تر ټولـو د عـامري او غزالـي سياسـي لارښـووني منطقـي سمبښت لـري، او د خراسـاني روايـاتو او د ديـن او فلسـفې يـو گټـه ور امتزاج ځني ښكاري.

د فارابي د مدينهء فاضله د جوړولو او چلولو دپاره عـامري سياسـت پر دور خانگو ويشي :

لومړی : د سايس ياني د مملكت د مشرتابه صفات.

دوهم : د مُساس یاني د خلکو اجتماعي وظایف.

دریم : د سیاســت چلولــو لارې چــارې، چــې هــر یــو اووه څانګې لري او ګرده یوویشت څانګې دي :

اول : د سایس صفات :

۱. د نفس قوام او مړ وچتوب
۲. د سیاست د سننو رعایت
۳. حزم
۴. د مرام ډولونه او شرایط
۵. نرمي او احسان
۶. عنف او ټینګښت
۷. د دښمنانو د ضرر دفع کول.

دوهم : د مُساس صفات :

۱. مسنون تولید.
۲. معاینه کول او وده.
۳. روزنه او پالنه.
۴. د ښځو تهذیب.
۵. د صنعت کارانو تهذیب.
۶. اجتماعي مالي اقتصاد.
۷. د هیواد د ساتونکو پالنه.

دریم : د سیاست ضروریات :

۱. د ښو کارداانو غوره کول.

۲. د غوره سوو کاردانانو صفات.
۳. د کاردانانو قوانین او آداب.
۴. د وزیر او مشاور ټاکنه.
۵. د وزیر او مشار صفات.
۶. د مشورې لارې چارې.

په دې ډول کله چې امیر علي شېر نوایي په یوه مکتب کښې د سلطان حسین بایقرا سره په سمر قند کښي درس لوست او بیا په ۸۷۳ ق کال دی د هرات د دربار مهربردار او بیا لوی وزیر کېدئ، د خراسان په فکري مدرسه کښې د سیاست مُدُن او جهاندارۍ لپاره ځینې علمي او عملي کړنلارې ټاکلي سوي وې، ځکه چې پخپله امیر هم د علم او تجربې خاوند ؤ، نو ده به هم هسې حکومت چلاوه چې د عقل او پوهنې له اساسو سره سم ؤ. او هم ددې جهته خلک دده په جهاندارۍ کښې خوښ وه او د خراساني سیاست، د سعادت او اسعاد پر بنیاد برابر ؤ. ، د عبدالرزاق سمرقندي په قول "مملکت یا سلطنت خراسان" د آرامۍ اوسوکالۍ په سیوري کښې د علم، ادب، هنر او فرهنگ داسې پالنتون سو، چې د منځنۍ آسیا په تاریخ کښې (د هرات هنر) یو خاص باب گڼل کیږي.

تر امیر علي شېر نوایي د مخه د شاهانو د پاچهۍ بناء پر زور او ظلم ولاړه وه، وژل، نړول او تالا کول د هر غالب یو عادي کار ؤ، تر سلطان حسین بایقرا دمخه اسفزاري د ۸۶۶ ق کال د حکومت کولو یو کرغېړن منظر داسې ښیي : "سلطان ابوسعید میرزا را معلوم شد که خواجه معزالدین شیرازی و شیخ احمد صراف در وقت وصول وجوه به مردم ظلم وتعدا بسیار کردند. سلطان خواست که آنهارا به عقوبتي

هلاک کند که سبب عبرت سایر عمال و مباشر آن باشد. پس حکم کرد که شیخ احمد صراف را بر درب ملك پوست کرده بعداً به عذاب الیم کشته وخواجه معزالدین در دیگ آبجوش انداخته تا پخته شد ... "

(روضات الجنات)

سلطان حسین بایقرا د سلطنت اوږده دوره (۳۸) کاله په خراسان کښې د امیر علي شیرنوایي په تربیه اواداري لیاقت او عدالت، د سمي جهانداری او ادب اوفرهنګ د ودې او پالني لپاره نسبتاً یوه مثالي دوره وه.

امیر علي شیر ددې پر ځای چې خوک پوست کي یا کوم خوک په ایشنده کړایي کښې واچوي په دې پوهېدئ چې انسان د ښو زرو کالو تجربې او دآسماني کتابو ښووني او د سیاست د چارو ګرده پوهان دا ښيي چې سیاست د ځان سعادت او اسعاد یعني د نورو خوشبخته کول دي، نه وژل، ځورول او په بده ورځ لړل. وایي چې ده د سیر الملوك کتاب دخپلو تجربو او مطالعو پر اساس کښلی وُ اوده د شاعرۍ او منثورو آثارو یوه غټه برخه هم دغسې سیاسي ښووني او پېرزویني دي. په اُزبکي ژبه ئې محبوب القلوب سته، چې د امیرانواو وزیرانو د مملکت دارایي اصول ئې هم ښوولي دي، او په جامعه کښې د هر ډول کارکوونکو راز راز وظایف بېل بېل بیانوي.

دا کتاب چې پروفیسر کونونوف په تصحیح په ۱۹۴۸ م کال په لینن ګراد کښي چاپ سو، لومړی څپرکی د پادشاه عمومي اوصاف ښيي چې په مملکت کښي څنګه ګرده خلکو اواجتماعي ډلو ته یو هوسا ژوند او عمومی امنیت جوړولای سي. په دوهم څپرکي کښي د مملکت د مشرانو او بېګانو وظایف څرګندوي چې دوی به هم د پاچا او هم د خلکو خدمتګاران وي، او د دولت دستګاه به په ښه توګه چلوي.

په دریم څپرکي کښي د ناوړو او ناپوهو مامورینو کرغېړن کاږه اخلاق بیانوي چي د ورانۍ سبب دي او داسي کارداران باید له مملکت څخه ورک کړل سي.
څلرم څپرکی د ظالم او جاهلو بدلګامو پاچهانو عُیوب رابرسېره کوي چي څنګه ځان اومملکت اوخلك د تباهۍ کندي ته اچوي؟
پنځم څپرکیٔ د وزیرانو اهمیت ښیي، چي د مملکت اداره، اقتصاد، د انصاف او عدالت چاري په دوي پوري اړه لري، اوکه دوي د خلکو څخه راټول سوی مال برابر کاندي نو لکه هغه طبیبان دي چي ناروغه په زهرو وژني.
( د اُزبکي نسخې څخه د ښاغلي دکتور واحدي تلخیص)
د امیر علي شېر دری اواُزبکي اشعار دده د سیاسي پاخه فکر روڼه مظاهر دي، په دری ادب کښي دمخه امیر خسرو بلخي د بحرالابرار قصیده، په حکمت او موعظت کښې ویلي وه. بیا نو مولانا جامي خپله د لهجه الاسرار قصیده په هغه بحر او قافیه اومضمون وویله. امیر علي شېر هم د تجفة الافکار په نامه ۷۳بیته یوه غوره قصیده د حضرت جامي په نامه اهداء کړه چي دده اخلاقي او سیاسي نظریات د شعر په ژبه ښه څرګندوي.
پرته له دې دده ځیني مفصل مکتوبونه هم په اُزبکي ژبه سته، چي پاچا ته ئې له سره تر پایه د سلطنت د کارو او د مملکت د اداري او سیاست چلولو ګرده لاري چاري ئې ورښوولي دي او داسي تقسیم اوقات ورته جوړوي چي سهار وختي لمونځ د خلکو سره په جماعت اداء کړه بیا نو له حرمه راووزه او په دېوان کښي کښېنه ! د خلکو دادخواه واوره ! که په چا ظلم سوي وي، ظالم ته داسي جزاء ورکړه چي د نورو پانیات سي، بیا نو د مملکت ارکان د مشورې دپاره راو

غواړه او ټولو ته هغه کارونه وسپاره چي تر مانبامه باید انجام سـي، او د نورو ورځو کارونه هم په هغو وروځو کښي تمام سي، او کـه چـا خپلـه وظیفه پای ته نه وي رسولې باید چي تنبیه سي.

بیا نو پاچا ته نصیحت کوي او وایي : خدای دي توفیـق در کـړي، چي شراب بیخي پرېږدي خو لړول ئې خـورا ضـرور گڼـه ! د فراغـت وختونه په کتابخانه کښي تیروه ! په هفتـه کښـي دوه ورځـي شـرعه پـه خپل حضور کښي جاري ساته، تل د عراق مملکـت تـه هوښیـار خلـك استوه، چي صحیح احوال درته راورسوي. په ښار کښي شـراب خـانې، قمار خانې او د عیش کورونه وتړه ! پـه مسـاجدو کښـي امامـان مقـرره کړه، چي د هغې کوځې هلکانو ته درسونه هم لولي، دغه تـدریس دي په کلي کښي هم جـاري وي. د اوقـافو اداره او کتنـه هـم د اعتمـاد وړ خلکو ته وسپاره، ټولو کاردارانوته امر وکړه چي په دېوان کښـي حاضـر وي او دخلکوکارونه بـې ځنـډه اجـراء کـړي او مالیـات ژر دېـوان تـه ورسوي او له چا څخه بې ځایه تمه ونه کړه.

باید چي یو معتمد سړی وټاکـل سـي چـي د پاچـا د دېـوان گـرده واقعات هر ورځ ثبت کاندي، او د کار د کولـو تـاریخ هـم پـه روزنامـه کښي وکاږي او هر حکم چي سوي وي باید هغسي امر په وسي او ټـول عرایض او حُکمونه ئې په خوانا خط ثبت سي، او د هرچا د نوبت ساتنه وسي. بله داده چي ټولو دېوانیانو ته حُکم وسي چي د سوداگرو کارونـه ورسم کړي. د زکات ټولولو په کارونو کښي د شریعت حُکـم وسـاتي او سوداگران را جلب کړي چي تجارت ورنق ومومي.

(د ازُبکي ژبي څخه د یوه مکتوب لنډیز چـي واحـدي ژبـاړلی دئ) امیر علي شېر کله کله د یوه تجربه کار رهنما په توگه د خپلـو تـر لاس لاندي کشرانو تـه هـم سـمه لار او د سیاسـت اوممملکـت دارائ چـاري

ښيي، په يو مکتوب کښې چي اصل ئې په دري ژبه دئ، خواجه افضل الدين ته د برادر ارجمند او شهاب الدين عبدالله مرواريد ته د فرزند دلبند په خطاب لارښوونه کوي او داسي وايي :

"شما را حق سبحانهٔ وتعالی دولت وجاه و سعادت قرب شاه عنايت نموده. التماس آن است که اوقات خودرا به غفلت نگذرانند و عجزه و زيردستان را به شفقت د دلجويي بنوازد. و کلر وخاکساران به مرحمت ونرمگويي پيشه کنند ... و درهمه کاري اخلاق و راستي پيشه کنند ... و از سخن راست که صلاح دولت و رعايا وسپاهداران باشد نترسند... "

( اسناد ونامه های تاريخي ۴۱۴ – د تهران چاپ)

علی شېر خو پخپله د خراسان د سلطنت امیر او د نظام الدين والدوله ، رکن السلطنت او نورو هسکو القابو په درلودني سره د يوه لوی مملکت، دوهم مقتدرسړی وُ، مگر دده جهان بيني د علم او بصيرت په رڼا کښې د واقعيت ليدني سره ځنگ په ځنگ وه. د جاه جلال برم دی نه مغروره کاوه پخپله د شاهي خول هم په سپکه سترگه ويني او د تحفة افکار په مطلع کښې داسي وايي :

آتشين لعلی که تاج خسروان را زيور است
اخگري بهر خيال خام، پختن، در سراست

د علی شېر پ زمانه کښې شاهان په کوم مادي قيد يا د خلکو د پوښتني مقيد نه وو، داسي څوک به نه وو چي د حق خبره په ډاگه پادشاه ته ووايي. نوامير علي شېر هر دغسي مطلق العنان ته د مرگ او خلاصه لار ور په يادوي او د انسان عاقبت ته يې متوجه کوي، چي مطلق العنان انسان په وجداني توگه له ظلمه را وگرځوي او د وجدان په پړي ئې وتړي. دی وايي :

شه که یاد مرگ نارد، زوست ویراني ملک
خسرو بی عاقبت، خُسرېلاد وکشور است

**امیر په سترگو ویني چي دلته له سیاستوالو څخه بېله، یوه بله ډله یاني شیخان هم پر جامعه مسلط دي. نو تر شاهانو وروسته په تحفة الافکار کښې دغي ډلي ته هم په انتقادي سترگه گوري :**

تابود شیخ ریایي نکته گو، زورست رنج
تا شتا را یج بود، عریان زسرما مضطر ست
تخم رسوایي دهد بر، دانهء تسبیح زرق
آری آری دانه، جنس خویش را بار آورست

**په دې قصیده کښې چي د ټولني هسکي ډلي او ددوي اعمال په کره سترگه ویني، د جامعې د کسب گري ډلي د لاس تناکي ستایي او دکار او رنج حاصل، د مقصد مرغلره گڼي :**

مرد کاسب را زرنج دست، کف پرآبله
شد دلیل گوهر مقصود، کش دست اندرست

**د امیر سیاسي عقیده دا وه چي جهانداري یوازي په شدت نه چلېږي او هر زورور حُکمران په داسي شعر ببروي :**

ای فلان ! سوختي خلایق را
ملک را شدت تو، ویران کرد
آتشي را که چون تو سوزنده است
جز به کشتن علاج نتوان کرد

**نو که څوک خلکو ته گټه رسوي، تل به سرلوړي وي :**

دُر افشان گشت چون بر فرق مردم
به شاهان چتر شد ابر بهاری

د علی شېر نظر ډېر ارت او د انسان پـر مینـه او ښېګـړي ولاړ دئ. که د خلکو له خوا ناوړي هم ور ورسېږي، دی خپله مینه اومحبـت نـه سپموي. او دا هغه مقام دی چې د شرق ستر مفکران یې لـري، حـافظ ویلي وو :

زیمن عشق به کونین صلح کل کردم
تو خصم باش و زما دوستي تماشا کن

نوایي وایي :

گر رسد ناخوشي از خلق، خوشم چون فانی
زانکه با ناخوشی اهل جهان خوش دارم

په دې ډول د علی شېر عقیده دا وه ، چې د سیاست په پټي کښـې د انصاف او عدالت له زړې پرته بله دانه ، نه زرغونیـږي، او نـه حاصـل ورکوي. نو پوخ جهاندار هغه دی چې د انصاف زړې کري :

کار چون کشته درون بود ، آن شد دهقان
که درین مزرعه جزدانهء انصاف نکِشت

ددې لنډي څېړني په پای کښي د نوایي د یوه اُزبکی بیـت ترجمـه راوړو ، چې دی څنګه د آزادۍ اهمیت په شاعرانه پیرایـه کښـي ښکـاره کوي او داسي وایي :

"که په یوه طلایي قفس کي سورګل هم وغوړېږي، دغه ګل به بلبل ته د اغزي په څېر ښکاري، دا څکه چي آزادي نه لري". (۱)

(۱) سپیده مجله، ۱۴ مه او ۱۵ مه ګنه، ص ۴